UNFPA | unicef | UN WOMEN



# د کوېډ-۱۹ وبا په هکله د جنډر پوهاوی | افغانستان

د ۲۰۲۰ کال د جولای د میاشتې ۲۳ نیټه

## دیارلسمه ګڼه: پر نجونو، پېغلو او ځوانو ښځو د کوېډ – ۱۹ وبا اغېزه

د ښځو په چارو کې د ملګرو ملتونو دفتر، یونیسف او UNFPA په ګډه دغه دیارلسم پوهاوی خپروي ترڅو په افغانستان کې د کوېډ – ۱۹ وبا په جنډر پورې ځانګړو اغېزو باندې رڼا اچولو ته دوام ورکړي. دغه پوهاوی پر افغان ځوانانو – نجونو، پېغلو او ځوانو ښځو – د کوېډ – ۱۹ پر اغېزه تمرکز کوي. دغه پوهاوی ښيي چې نجونې، پېغلې او ځوانې ښځې، چې د وګړو مهمه او زیاتیدونکې برخه جوړوي، ولې د کوېډ – ۱۹ لخوا په ځانګړي ډول اغېزمنېږي او د کوېډ – ۱۹ ناورین په اوږدو کې یې، د عمر او جنسیت په اړه د شته نابرابریو، کمزورتیاوو او د عمر له پلوه مناسبو او جنډر ته ځواب ورکوونکو پلانونو او خدمتونو د نشتون له امله، په اړتیاوې به یې ولې په ډېر احتمال سره پوره نشي.

دغه پوهاوی د ملي او نړیوالو شریکانو ته د سپارښتونو او ملاحظو د یوې ټولګې په وړاندې کولو سره پای ته رسیږي. د ښځو په چارو کې د ملګرو ملتونو دفتر، یونیسیف او UNFPA، د کوېډ – ۱۹ ناورین د بهیر په ګډون، د ښځو او نجونو حقونو ته ودې او د هغو اړتیاو پوره کولو ته ژمن دي. دغه پوهاوی پر نجونو، پېغلو او ځوانو ښځو باندې د جنسیت له پلوه د کوېډ – ۱۹ ځانګړو اغېزو په اړه د یوه معلوماتي بحث اساس وړاندې کولو له لارې، یادې موخې ته پرمختګ ورکوي. . دا پوهاوې روښانه کوي چې پر نجونو، پېغلو او ځوانو ښځود دې ناورین ځانګړو کمزورتیاوو، اړتیاوو او اغېزو ته پاملرنه او همدا راز د جنسیت له پلوه حساس او د عمر له مخې مناسب پلانونه، خدمتونه او پروګرامونه له لارې د هغوې اړتیاوو ته ځواب ورکول په پام کې نیول خومره اړین او حیاتي دي.

### شرایط او د جنډر رابرسیره کیدونکې اغېزې

د افغانستان د نفوس ستره برخه ځوانان جوړوي. نږدې نیمایي وګړي، ۴۸ ٪ یې له ۱۵ کلنۍ څخه کم عمره ماشومان دي، چې له دې سره افغانستان د هغو ثلورو هېوادونو له ډلې څخه یو دی چې له ۱۵ کلنۍ څخه د کم عمره کسان پکې

تر ټولو ډېر دي. ځوانان (۱۵ – ۲۴ کلن) د نفوس پنځمه برخه (۲۰٪) تشکیلوي. په ټولیز ډول، له ۲۵ کلنۍ څخه د کم عمر درلودونکي د بشپړ نفوس ۶۸ سلنه جوړوي.[۱] د افغانستان ځوان نفوس، د بدلون، سولې او دوامداره ودې لپاره یو هڅوونکی ځواک دی. سره له دې، په افغانستان کې ځوانان د زده کړې، روغتیا، دندو او د جنسیت د نابرابرۍ په برخو کې له سترو ننګونو سره مخ دي. په افغانستان کې، ماشومان او په ځانګړي ډول نجونې زده کړو ته لاسرسی نه لري، له کوېډ – ۱۹ څخه مخکې درې اعشاریه اووه میلیونه ماشومان له ښوونځیو څخه پاتې وو، چې ۶۰ سلنه یې نجونې وې.[۲] په پایله کې، د سواد کچه ټیټه پاتې ده، په ځانګړي ډول د ځوانو ښځو لپاره، ځکه چې د ۶۶ سلنه ځوانو هلکانو په پرتله یوازې ۳۷ سلنه پېغلې باسواده دي.[۳] ځوانان له بیکارۍ سره هم مخ دي او د نړیوال بانک د اټکل مطابق، په ۲۰۱۹ کال کې، ۴،۱۷ ٪ له ۱۵ – ۲۴ کاله عمر درلودونکي ځوانان بیکاره وو. د بیکارۍ کچه د سړیو په پرتله (۲،۲۱ ٪) په ښځو کې (۲،۱۶ ٪) لوړه ده.[۴]

هغه ننګونې چې ځوانان ورسره مخ دي، نجونو، پېغلو او ځوانو ښځو لپاره د جنسیت د نابرابرۍ له ستونزې سره لاترینګلې شوې دي، چې د جنسیت د قوي تبعیض او سختو جنسیتي نورمونو او توقعاتو له امله یې پر وړاندې تبعیض دوام لري. له عمر او جنسیت سره تړلو بنسټیزو خنډونو او تبعیض له امله، نجونې، پېغلې او ځوانې ښځې له ځانګړو ننګونو سره مخ دي او اړینو خدمتونو، معلوماتو، مرستو او خوندیتوب ته محدود لاسرسی لري.[۵] هغوی زده کړې، اقتصادي فرصتونو، معلوماتو او د روغتیایي مراقبتونو په ګډون اړینو خدمتونو ته لاسرسی نه لري او په لوړه کچه تاوتریخوالی تجربه کوي. په بشري چاپېریالونو او په لیرې پرتو سیمو کې ا نجونې او ځوانې ښځې له اضافي ننګونو سره مخ دي او اړینو بنسټیزو خدمتونو ته محدود یا هېڅ لاسرسی نه لري.

پلانونه، پالیسۍ او پروګرامونه ډېری وختونه د نجونو، پېغلو او ځوانو ښځو ځانګړې اړتیاوې او کمزورتیاوو ته رسیدګي کولو او د جنسیت او عمر له مخې مناسب ځوابونه وړاندې کولو کې پاتې راځي. دا په ځانګړي ډول د پېغلو نجونو (۱۵ – ۱۸ کلنو) په اړه واقعیت لري چې ډېری وختونه یې د روغتیا پالنې ، جنسي او د باروری روغتیایي خدمتونو او د تاوتریخوالي قربانیانو ته خدمتونو په ګډون، د عمر سره د مناسبو زده کړو او اړینو خدمتونو وړاندې کولو له لارې یې ځانګړې اړتیاوې په کافي اندازه نه پوره کیږي.

## د پاملرنې ځانګړي ساحې

د کوېډ – ۱۹ ناورین به شته کمزورتیاوې او نابرابرۍ لا هم زیاتې کړي او په پایله کې به پر نجونو، پېغلو او ځوانو ښځو ډېره بده لنډمهال او اوږد مهاله اغیزه ولري. د کوېډ – ۱۹ له امله شایي پېغلې او ځوانې ښځې د ناروغۍ له ټېټې کچې خطر سره مخ وي، خو روغتیایي ناورین پر هغوي مستقیمې او نامستقیمې جدي اغېزې لري. کوېډ – ۱۹ د افغان نجونو، پېغلو او ځوانو ښځو لپاره ننګونې لا سختې کړې دي چې ژوند او راتلوونکی به یې د روغتیایي او ټولنیز – اقتصادي ناورین لامله په نامناسب ډول اغېزمن شي.

د عمر او جنسیت په تفکیک سره د معلومات نه شتون له امله، په افغانستان کې پر ځوانو ښځو د کوېډ – ۱۹ د ځانګړې جنسیتي اغېزې په اړه معلومات ناکافي پاتې دي. سره له دې، پخوانیو روغتیایي او بشري ناورینونو ښودلې چې له مشخصو اقداماتو پرته، نجونې، پېغلو او ځوانو ښځو لپاره به په کور کې د تاوتریخوالي، زده کړې او روغتیایي مراقبتونو ته د محدود لاسرسي، اقتصادي ستونزو، په ماشومتوب کې ودونو، په کم عمر کې مېندوارتوب، د مېندو د مړینې او د وړیا کورني کار او مراقبت بار په ګډون، هغه ستونزې زښتې زیاتې او ستونزمنې شي، چې لا دمخه ورسره لاس او ګریوان دي. کوېډ – ۱۹ به د نجونو، پېغلو نجونو او ځوانو ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي شته خطرونه لازیات کړي، ټولنیزه، اقتصادي او پوهنیزه وده به یې ټکنۍ او جنسي روغتیا به یې وګواښي. په بشري چاپېریالونو کې اوسېدونکي نجونې، پېغلې او ځوانې ښځې، چې له وروسته پاتې ټولنو څخه وي او یا معیوبیت لري، د دغې وبا له ثانوي اغېزو به په ځانګړي ډول اغېزمنې شي.

### د نجونو، پېغلو نجونو او ځوانو ښځو پر روغتیا اغېزه

څنګه چې د جنډر په نهم پوهاوي د کوېډ – ۱۹ وبا پر مهال روغتیایي پاملرنې ته د ښځو د لاسرسي په اړه د جنډر پوهاوي کې یاده شوې ده، جنسیتي تبعیض او نابرابري ښځې او نجونې پر ویروس د اخته کېدو خطرو کې اچوي، په داسې حال کې چې د کوېډ – ۱۹ د معاینې او درملنې په ګډون، د روغتیایي مراقبتونو په څېر مهمو خدمتونو او معلوماتو ته د هغوی لاسرسی محدودوي. د عامې روغتیا وزارت د رسمي معلوماتو مطابق، په افغانستان کې ښځو د کوېډ – ۱۹ د

---

[۱] د افغانستان اسلامي جمهوریت د سرشمېرنې مرکزي اداره (۲۰۱۸). د افغانستان د ژوند د حالتونو سروې ۲۰۱۶ – ۲۰۱۷.

[۲] https://www.unicef.org/afghanistan/education

[۳] د بشري حقونو څارنه (۲۰۱۷). زه به ډاکټره نه یم او یوه ورځ به ته ناروغه یې – په افغانستان کې زده کړو ته د نجونو لاسرسی.

[۴] نړیوال بانک (۲۰۲۰). بېکاري، ځوانان (د ۱۵ – ۲۴ کلنو ځوانانو کاري ځواک سلنه) (د ILO تخمین) په دې پته موندل کیږي: FE.ZS.١٥٢٤.https://data.worldbank.org/indicator/SL.UEM

[۵] یونیسیف او UNFPA (۲۰۲۰). په افغانستان کې کووېډ – ۱۹ او د ماشومتوب واده او د کم عمر مېندواریو پر وړاندې د ځوانو نجونو زیانمننتوبونه

[۶] د ملګرو ملتونو د ښځو چارو اداره،WHO او UNFPA (۲۰۲۰). په افغانستان کې د کووېډ – ۱۹ په اړه جنسیتي خبرتیا: نهمه ستونزه: د کووېډ – ۱۹ وختونو پر مهال روغتیایي پاملرنې ته د ښځو لاسرسی

مثبتو پیښو یوازې ۲۷ سلنه جوړوله.[۷] په ډراماتیک ډول کمه شمېره، د کوویډ – ۱۹ اړوندو روغتیایي پاملرنې ته د نجونو او ښځو محدود لاسرسی او د معاینې او درملنې د نه کولو په صورت کې د هغوي پر روغتیا نامناسبه اغېزه څرګندوي. دا د هغو محدودوونکو جنسیتي نورمونو له امله دي چې روغتیایي مراقبتونو، د ښځینه روغتیایي کارکوونکو د کمښت او د ولایتونو په کچه د تجرید جلا مرکزونو د نشتون په ګډون چې چې اړینو روغتیایي خدمتونو ته د نجونو او ښځو د لاسرسي پر وړاندې اضافي جنسیتي خنډونه رامنځته کوي د ښځو او انجونو پر ګرځېدلو او پریکړو نیولو محدودیتونه لګوي نجونې، پېغلې او ځوانې ښځې، روغتیایي خدمتونو ته په لاسرسي کې په ځانګړي ډول د کورنۍ پر نارینه غړو متکي وي. په افغانستان کې، یوازې ۱۵ سلنه نرسان او ۲ سلنه ډاکټران د ښځو له طبقې څخه دي.[۸] د تبعیضي جنسیتي نورمونو له امله، د هغوي روغتیا ته ښایي لومړیتوب ورنه کړل شي. له دې پرته، د ښوونځیو بندېدلو له امله د ښوونځي د عمر نجونې د اوونیزو اوسپنې او فولیک اسیډ ټابلیټونو له ترلاسه کولو څخه محرومېږي، چې له دې سره یې روغتیا په لا زیات خطر کې پرېوځي او په انیمیا کې چې له پخوا څخه یې کچه لوړه ده نور زیاتوالی هم راځي ، چې د ویروس له امله یې د ناروغۍ خطر ورسره نور هم زیاتیږي.

## د پېغلو نجونو پر جنسي باروری روغتیا اغېزه

د جنسیتي تبعیض او نورمونو، کمزوري او تر ډېر کاري فشار لاندې روغتیایي سېستم او پر ویروس د ککړېدو وېرې له امله، نجونې، پېغلې او ځوانې ښځې د روغتیایي مراقبت مهمو او ژوند ژغورونکو خدمتونو ته محدود لاسرسی لري.[۹] تمه ده چې د کوویډ – ۱۹ وبا له اعلان وروسته نهو میاشتو کې، په سویلي اسیا کې افغانستان یو له هغو هېوادونو څخه وي چې تر ټولو ډېر (شاوخوا ۱ میلیون) ماشومان به پکې وزیږول شي.[۱۰] پېغلې او ځوانې ښځې د مېندواری او زېږون پر مهال له ستونزو څخه ډک خطرونو له امله په ځانګړي ډول زیانمنونکي دي.[۱۱] د هغو نجونو لپاره چې په بېوزلۍ کې ژوند کوي، په ډېرو ټولنو کې د بنسټیزو خدمتونو بندېدل ښايي پر کورنیو د فشار لامل شي ترڅو خپلې لوڼې واده کړي. د ماشومانو په ودونو کې له زیاتوالي سره، د غیر ارادي او په کم عمرۍ کې د مېندوارۍ شمېر به د احتمال له مخې زیات شي.

پېغلو نجونو ته د جنسي او باروری روغتیایي خدمتونو وړاندې کول په ځانګړي ډول د روغتیایي ناورین له امله اغېزمن شوي دي ځکه چې ډېر اړین نه ګڼل کیږي او مالي او بشري سرچینې د وبا کنټرول ته ځانګړې شوې دي. جنسي او د باروری روغتیایي خدمتونو ته په لاسرسي کې د کموالی راپور ورکړل شوی دی او همدا راز د جنین له سقط وروسته مراجعینو کې ۸۰ سلنه کموالی او وقایوي خدمتونو په ترلاسه کولو کې ۵۸ سلنه زیاتوالی راغلی دی.[۱۲] دا له وخت څخه مخکې او اجباري ودونو کې پر پېغلو نجونو ځانګړې اغېزه درلودلی شي، چې له خطره ډک زېږون او ناغوښتې مېندوارۍ رامنځته کوي. د جنسي او باروری روغتیایي خدمتونو کموالی د ناخوندي زېږون خطر زیاتوي. دا چاره د مېندو او ماشومانو په مړینه، ناخوندي سقط، د پېغلو نجونو او ناغوښتو مېندوارۍ کې د زیاتوالي خطر لوړوي.[۱۳]

## د میاشتني عادت پر حفظ الصحې اغېزه

د د میاشتني عادت د حفظ الصحې د مدیریت په اړه ناکافي معلومات، تحریم او پېغور، د حفظ الصحې تولیداتو ته محدود لاسرسی او د روغتیا ساتنې کمزورې زېربنا، د نجونو او ښځو د زده کړو فرصتونه او روغتیايي حالت له ننګونو سره مخ کوي. په ۲۰۱۶ کال کې یوه ترسره شوې څېړنه[۱۴] جوته وي چې له نیمایي زیاتې افغانې نجونې خپل میاشتنی عادت له دې پوهاوي پرته پیلوي چې څه ورته پېښیږي او ولې ورته پېښیږي. له ۱۶۰۰۰ ښوونځیو څخه، یوازې ۱۲۰۰ یې نجونو لپاره تشنابونه لري څو په خوندي ډول میاشتنی عادت اداره کړي. نجونو او پېغلو لپاره د جنسیت له پلوه جلا تشنابونه، چې روانې اوبه ولري، اړین دي څو په ښوونځي کې د د میاشتني عادت حفظ الصحه مدیریت کړي. له دغه ډول تشنابونو پرته، هغوي ښايي د میاشتني عادت پر مهال په کورونو کې پاتې شي، چې پایله یې په حاضری کې د واټن رامنځته کېدل یا په بشپړ ډول له ښوونځي څخه وتل وي او د هغوي علمي لاسته راوړنې او راتلونکې زیانمنوي.[۱۵]

[۷]نوې بشري غمیزه (۲۰۲۰). د افغانستان د کرونا ویروس ورک ناروغان: ښځې.

[۸] OCHA (۲۰۱۹). افغانستان: د بشري اړتیاوو عمومي کتنه (۲۰۲۰).

[۹]د ملګرو ملتونو د ښځو چارو اداره،WHO او UNFPA (۲۰۲۰). په افغانستان کې د کوویډ – ۱۹ په اړه جنسیتي خبرتیا: نهمه ستونزه: د کوویډ – ۱۹ وختونو پر مهال روغتیایي پاملرنې ته د ښځو لاسرسی

[۱۰] یونېسف (۲۰۲۰). د کوویډ – ۱۹ پانډمي پر مهال میلیونونه مېندوارې مېرمنې او نوزېږدي ماشومان تر فشار لاندې روغتیایي سیستمونو او په خدماتو کې د ځنډ لامله تهدیدیږي.

[۱۱] ایما سمېت (۲۰۲۰). د مېندو روغتیا او کوویډ – ۱۹: د یوه اوږدمهاله بحران مخ اړولو لپاره منډه. ډیوېکس

[۱۲] د جنوبي اسیا د پلان شوې پلارولۍ نړیوال فدراسیون (۲۰۲۰). د کوویډ – ۱۹ پر مهال د جنین د خوندي سقط خدماتو – د جنوبي اسیا له لوري منل شوي او نوښتګر ځواب.

[۱۳] د ملګرو ملتونو سکرتر جنرال او د ملګرو ملتونو د ښځو چارو اداره (۲۰۲۰). د پالیسۍ پاڼه: پر ښځو د کوویډ – ۱۹ اغېزه

[۱۴] د پوهنې وزارت او یونیسیف (۲۰۱۶) په افغانستان کې د میاشتینۍ دورې د حفظ الصحې مدیریت

[۱۵] د بشري حقونو څارنه (۲۰۱۷).“زه به ډاکټره نه شم او یوه ورځ به ته ناروغه یې” – په افغانستان کې زده کړو ته د انجونو لاسرسی

میاشتنی عادت لا هم په پټه تېرېږي او ننګ او پیغور ګڼل کېږي. افغانې نجونې او ښځې د خپل میاشتني عادت په مدیریت کې له ډېرو ننګونو سره مخ دي. هغوي ښايي د دې لپاره وسیلې ونه لري یا له تبعیضي کلتوري نورمونو سره مخ شي چې د ښې حفظ الصحې ساتنه یې ستونزمنوي. دغه ننګونې ښايي د ښځو او نجونو ته د بنسټيزو حقونو د ورکړې په مخنیوي تمامې شي، په ځانګړي ډول ښايي د هغوي د درناوي حق او زده کړې ته لاسرسی محدود کړي او یو عادي بیولوژیکي حقیقتد جنسیت د برابرۍ پر وړاندې د خنډ لامل کړي.

کوېډ – ۱۹ به د میاشتنی عادت او خپلې روغتیا د مدیریت د وړتیا په برخه کې پر ښځو او نجونو ثانوي اغیزه ولري.. هغه ښځې او نجونې به ډېرې اغیزمنې شي چې بیوزله دي او د اقتصادي او ټولنیزو ستونزو له پلوه زیانمنونکې دي. د کورنۍ په کچه د د کمي نفقي له امله، نجونې او ښځې بازارونو ته د محدود لاسرسي او د بیو له ډېر لوړوالي سربیره، هغه کوي ترڅو د شخصي حفظ الصحې تولیدات وپېري.[16] دغه ټولې چارې بېوزلو او کلیوالو او لیرې پرتو کورنیو او ټولنو د نجونو او ښځو لپاره ستونزمنې دي.[17] دا به زده کړې ته د هغوي لاسرسی او د بشري کرامت او وقار حق لا ډېر اغېزمن کړي.

## معلوماتو ته لاسرسی

نجونې، پېغلې او ځوانې ښځې، په ځانګړي ډول هغه چې په لیرې پرتو او کلیوالو سیمو کې ژوند کوي، د جنسیتي محدودیتونو له امله د کوېډ – ۱۹ په اړه اقداماتو او معلوماتو ته لاسرسی لري، مګر له عمر سره د مناسبو معلوماتو او د اړیکو مناسبو طریقو کاروني نه شتون هم هغه لاملونه دي چې په دې ویروس د هغوي د اخته کېدو خطر نور هم لوړوي. په کابل، کندز او خوست ولایتونو کې یوې ترسره شوې سروې وښودله چې د سړیو د ۴۸ ٪ په پرتله یوازې ۳۰ ٪ ښځو د کوېډ – ۱۹ په اړه پوهاوی درلود.[18] همدا راز د سړیو ۷۹ ٪ په پرتله یوازې ۵۸ ٪ ښځو د کوېډ – ۱۹ د نښو په اړه معلومات درلودل او د سړیو د ۴۵ ٪ په پرتله یوازې ۳۶ ٪ ښځو د وقایوي اقداماتو په اړه پوهاوی درلود. په افغانستان کې د ۷۰ ٪ هلکانو (۱۵ – ۱۹ کلن) په پرتله یوازې ۵۲ ٪ نجونې ټولنیزې رسنۍ کاروي.[19] دا په دې مانا ده چې پېغلې نجونې د ځوانو هلکانو په پرتله د کوېډ – ۱۹ په اړه لږ معلومات ترلاسه کوي، چې له دې سره هغوي په نوموړي ویروس د اخته کېدو له اضافي ګواښ سره مخ کېږي او په ټولنو کې د ویروس د د د خپرېدو پر وړاندې د هڅو مخه نیسي.

ګرځبندیز او د ښوونځیو بندېدل، د همزولو ملاتړ ته د ځوانو ښځو پر لاسرسي منفي اغېزه کوي، چې له دې سره د هغوي ټولنیز بېلوالی او زیان منل نور هم زیاتېږي او د معلوماتي سرچینو او د اړیکتیایي وسیلو ته یې لاسرسی کمېږي.[20]

## په ماشومتوب کې واده/ خوندیتوب په ګډون د جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالی او زیانمن عملونه

په افغانستان کې، نجونې او پېغلې په ماشومتوب کې له واده، کورني او جنسي تاوتریخوالي سره مخ کېږي. له کوېډ – ۱۹ څخه مخکې، د ۲۰۱۵ کال یوې سروې وښوده چې په کابل، جلال اباد او تورخم کې د سروې شویو ماشومانو پر ۷۸ ٪ یې تاوتریخوالی شوی وو.[21] په سروې کې همدا راز په کورونو کې د نجونو پر وړاندې د تاوتریخوالي لوړه کچه ښودل شوې وه په داسې حال کې چې د هلکانو پر وړاندې د تاوتریخوالي کچه په کارځای او ټولنه کې لوړه وه. رابرسیره کیدونکي شواهد جوتوي چې په افغانستان کې په داسې حال کې چې د ښځو او نجونو پر وړاندې د تاوتریخوالي کچه په ځانګړي ډول په کورونو کې لوړه ده، د ناامنۍ، روغتیایي او مالي اندېښنو او د کوېډ – ۱۹ وبا لامله د ژوند د محدودو شویو شرایطو لامله لا زیاته شوې. ګرځبندیز او محدودیتونو ډېرې ښځې او نجونې د تاوتریخوالي ترسره کوونکو په دام کې اچولې دي، چې له تاوتریخوالي څخه د خلاصون او له ملګرو، کورنۍ او د خدمتونو وړاندې کوونکو ته یې د لاسرسي فرصتونو نورهم کم کړي دي.. په افغانستان کې د Oxfam مؤسسې له لورې په یوه ترسره شوې سروې کې، ۹۷ ٪ ښځینه ځواب ویونکیو ویلي دي چې د کوېډ – ۱۹ وبا له پیل راهیسې د جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالی زیات شوی دی.[22] د کوېډ – ۱۹ له امله، نجونې، پېغلې او ځوانې ښځې د تاوتریخوالي، رټنې، ناوړه ګټه اخیستنې او بې پروايۍ له لوړ خطر سره مخ دي. د کوېډ – ۱۹ وبا د نجونو، پېغلو نجونو او ځوانو ښځو لپاره خطر زیاتوي چې د کورنۍ د غړیو، خسرګنۍ او مېړه له لورې یې تاوتریخوالی تجربه کړي او د ماشومتوب، له وخت مخکې او اجباري ودونو له خطر سره

[16] OCHA (۲۰۲۰). افغانستان: د کووېډ – ۱۹ څو سکتوره ځواب عملیاتي حالت راپور، ۱۰ جون ۲۰۲۰.
[17] د ملګرو ملتونو د ښځو چارو اداره (۲۰۲۰) په اسیا او پاسېفېک کې د کووېډ – ۱۹ پانډمي لومړنۍ ۱۰۰ ورځې: د جنسیت له نظره
[18] جوهانیټر؛ OHW، JACK او ACTD (۲۰۲۰). د ټولنې د لیدلوري سروې په کابل، کندوز او خوست ولایتونو کې د کووېډ – ۱۹ په اړه پوهاوی، روش او عمل
[19] جنډر او کمیونېکېشن او وکالت، یونیسیف، ROSA، صفحه ۲.
[20] یونیسیف او UNFPA (۲۰۲۰). په افغانستان کې کووېډ – ۱۹ او د ماشومتوب واده او د کم عمر مېندواریو پر وړاندې د ځوانو نجونو زیانمننتوبونه
[21] Patrick O'Leary et al. (۲۰۱۵). په افغانستان کې د ماشومانو پر وړاندې تاوتریخوالی. Griffith University and Terre des Hommes
[22] Oxfam (۲۰۲۰) افغان ښځو لپاره یو نوی مصیبت: کووېډ – ۱۹

هم مخ دي.

د ښځو او نجونو پر وړاندې د تاوتریخوالي کلیدي هڅوونکیو په توګه، اقتصادي فشار او ناامني په کور کې تشویشونه زیاتولی او د هر ډول تاوتریخوالي په زیاتولو کې مرسته کولی شي. د نجونو، پېغلو او ځوانو ښځو پر وړاندې تاوتریخوالی د تادیب د یوه زیان رسوونکي ابزار په توګه زیاتیږي. له ښوونځي پرته، چې د خوندیتوب او زده کړې ځای دی، محدودیت وضع کول د تاوتریخوالي او جنسي ربړنې خطر زیاتیدو په معنا دی. پېغلتوب د نجونو لپاره یو زیانمنونکی وخت دی، چې د مېړه له لورې د تاوتریخوالي، جنسي تاوتریخوالي، ټولنیز فشار، ځورونې او له وخت څخه وړاندې واده تجربه کولو په ځانګړي خطر کې واقع وي.[۲۳] پېغلې نجونې او ځوانې ښځې، چې لا دمخه له کورني تاوتریخوالي سره مخ دي، شایي د قرنطین او جلا والي له امله رامنځته شوي تاوتریخوالي لاډیر تجربه کړي.

سره له دې چې په ماشومتوب کې واده ناقانونه دی، دغه ستونزه په افغانستان کې ډېره ده او یو پر دریمه برخه افغانۍ نجونې ۱۸ کلنۍ ته تر رسېدلو وړاندې واده کیږي.[۲۴] د بد او بدل په څېر ناوړه دودونه زیانمنتوب او د تاوتریخوالي تجربه زیاتوي. ټولنیز – اقتصادي ناورین ته د ځواب ویلو لپاره د څلند یوه منفي میکانېزم په توګه، د اقتصادي ناورین لامله هم د ماشومتوب په ودونو کې د زیاتوالي راپور ورکړل شوی وو. دغه ډول وبا به هم له ځان سره فوق العاده ننګونې ولري چې په دوارو پړاوونو یعنې د وبا د شدت او بهبودۍ په دوره کې به د ماشومتوب ودونه کې زیاتولی راشي. دا چې بېوزلي د ماشومتوب عمر ودونو یو ستر لامل دی چې کورنۍ د بېوزلۍ له امله د اقتصادي فشار کمولو په خاطر خپلې لوڼې ودوي، د وبا له امله متوقعه اقتصادي ناورین به دغه ډول ودونو لا زیات کړي.[۲۵]

آن کله چې نجونې، پېغلې او ځوانې ښځې په مستقیم ډول تاوتریخوالی نه تجربه کوي، په کور کې تاوتریخوالی د نسلونو ترمنځ ډېره اغېزه لري. د احتمال له مخې نجونې په راتلوونکې ژوند کې تاوتریخوالی تجربه کوي او دا تاوتریخوالی په ډېر احتمال سره د هلکانو لخوا ترسره کېږي. د هغو کورنیو ماشومان چېرې چې د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالی موجود وي، په راتلوونکي ژوند کې په خپلو دندو کې ډېر بریالي نه وي، ثبات نه لري او ښه عاید نه ترلاسه کوي.[۲۶]

## پوهنې ته لاسرسی

د کوېډ – ۱۹ ناورین، ښوونې او روزنې ته د ماشومانو لاسرسی په ځانګړي ډول اغېزمن کړی دی ځکه چې د ۲۰۲۰ کال د مارچ میاشتې راهیسې ښوونځي بند دي. ډېرو نجونو او پېغلو لپاره، په ځانګړي ډول هغه چې په کلیو او لیرې پرتو سیمو کې ژوند کوي، له کوېډ – ۱۹ څخه مخکې زده کړې ته لاسرسی یوه ننګونه وه. د نجونو زده کړه لا د مخه کم لومړیتوب درلود، لومړنۍ زده کړو ته لاسرسی محدود او ثانوي زده کړو ته یې لا ډېر محدود وو. څنګه چې پورته یادونه وشوه، په افغانستان کې ۷،۳ میلیونه ماشومان له ښوونځیو څخه پاتې دي، چې ۶۰ ٪ یې نجونې دي.[۲۷] د ۶۶ ٪ ځوانو هلکانو په پرتله، یوازې ۳۷ ٪ پېغلې نجونې لوستي دي.[۲۸]

د کوېډ – ۱۹ وبا له امله د ښوونځیو بندېدل کیدای شي چې د زده کړو له بشپړیدو مخکې د ډېرو نجونو، په ځانګړي ډول بېوزله، معیوبو یا لیرې او جلا ځایونو کې اوسېدونکو نجونو، د ښوونځي پرېښودلو لامل وګرځي.[۲۹] د کوېډ – ۱۹ له ټولنیزې – اقتصادي اغېزې سره او دا چې ډېرې کورنۍ د نفقې وسیلې له لاسه ورکوي، ډېرې نجونې شایي د ښوونځي پر پرېښودلو او حتی واده ته اړ کړل شي. د ایبولا ناورین شواهد د ډیرې مودې لپاره د ښوونځو د بندیدو له امله د انجونو پر وړاندې خطرونه په ډاګه کوي: له ښوونځیو څخه د اخراج سربېره، نجونې د جنسي ربړنې او له وخت مخکې مېندواریو پر وړاندې زیانمنونکې دي. دا د یوه خوندي ځای له لاسه ورکولو په معنا هم ده چېرې چې هغه نجونې چې تاوتریخوالي یې تجربه کړی دی هوساینه ترلاسه کولی شي او د بالغانو لپاره یوه فرصت دی ترڅو په خپل ژوند کې د تاوتریخوالي او لاسوهنې نښې نښانې وپېژني.[۳۰] له لیرې واټن (انټرنیټ له لارې) په زده کړو محدودیتونه او د مراقبت ډېر بار به زده کړو ته د نجونو د لاسرسي مخه ونیسي. ښوونځیو ته د نجونو د بېرته راستنیدل او لومړنۍ او ثانوي زده کړو ته د هغوي له لاسرسي څخه ملاتړ کوم ډېر مهم دي ترڅو هغوي وکولای شي چې خپل بشپړ پوټانسیل درک او د افغانستان په دوامداره وده او د سولې راوستلو په هڅو کې بشپړه همکاري وکړي.

---

[۲۳] Kumar, S. et. al. (۲۰۱۷). په ماشومتوب کې د تاوتریخوالي له منځه وړل: یو نړیوال مهم. روانپوهنه، روغتیا او طب، ۱، صفحه ۶.

[۲۴] https://www.unicef.org/afghanistan/child-protection

[۲۵] یونیسیف او UNFPA (۲۰۲۰). په افغانستان کې کووېډ – ۱۹ او د ماشومتوب واده او د کم عمر مېندواریو پر وړاندې د ځوانو نجونو زیانمنتوبونه

[۲۶] DUVVURY et al. (۲۰۱۳). د مېړه له لورې تاوتریخوالی: د ودې او پرمختیا لپاره اقتصادي تاوانونه اغېزې. د جنسیت برابري او وده، د ښځو غړ، ایجنسي او د ګډون څېړنې لړۍ، شمېره ۳.

[۲۷] https://www.unicef.org/afghanistan/education

[۲۸] د بشري حقونو څارنه (۲۰۱۷). افغانستان: زده کړې لپاره د نجونې هڅه.

[۲۹] یونیسیف او د سره صلیب نړیواله کمېټه (۲۰۲۰).کووېډ – ۱۹ – پېغلو نجونو پر وړاندې د جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالی او د هغوي د خوندیتوب او پیاوړتیا لپاره مداخلې

[۳۰] یونیسیف او UNFPA (۲۰۲۰). په افغانستان کې کووېډ – ۱۹ او د ماشومتوب واده او د کم عمر مېندواریو پر وړاندې د ځوانو نجونو زیانمنتوبونه

## پر ځوانو ښځو تولنیزه – اقتصادي اغېزه

په داسې حال کې چې په افغانستان کې د ځوانانو د بیکارۍ کچه لا د مخه لوړه وه، په ځانګړې ډول ۲،۲۱ ٪ ځوانې ښځې بیکاره دي، ټولنیز – اقتصادي ناورین شایي د ځوانانو د بیکارۍ کچه لا لوړه کړي، چې د افغانستان د ځوانو ښځو د اقتصادي ودې فرصتونه به نور هم محدود کړي. دغه وبا هم د کورنۍ د ناروغو او مشرانو او ناروغو غړو او همدا راز له ښوونځي څخه د پاتې ماشومانو څخه د مراقبت کولو په برخه کې د ځوانو ښځو او نجونو کارونه ډېروي. دا مورد د جنډر سختو نورمونو سره یوځای چې له پخوا څخه یې پوهنې او کارموندنې ته د هغو لاسرسی محدود کړی وو، ، زده کړې او اقتصادي فرصتونو ته د ځوانو ښځو لاسرسی به نور هم محدود او د هغوی ودې او راتلوونکې به ډېر اغېزمن کړي. له دې پرته، کله چې له سختو اقتصادي تشویشونو سره مخ کیږي، نجونې او ځوانې ښځې د خپل او خپلې کورنۍ اقتصادي ثبات لپاره د لوړ خطر لرونکي کارونه ترسره کوي، یا لکه څنګه چې یې پورته یادونه وشوه، له وخت مخکې ودیږي. دغه کړنه ښځې د تاوتریخوالي او زیانې له لوړ خطر سره مخ کوي.

## بدلون لپاره هڅوونکی ځواک: د ځوانانو مشغولیت او رهبري

دې ته په پام سره چې ځوانان د افغانستان د نفوس ۶۸ ٪ برخه جوړوي، په ټولو سیاسي او د عامې روغتیا تصمیمنیونو او همدا راز د سولې په پروسه کې یې د پام وړ ګډون اړین دي. د ځوانانو مشغولیت ډېرې ګټې لري او مثبتې پایلې رامنځته کوي چې د ځوانانو، کورنیو، او ټولنو لپاره خورا ډېرې ګټې لري. ځوانان، په ځانګړې ډول ځوانې ښځې، په خپلو ټولنو کې د کوېډ – ۱۹ په مخنیوي او غبرګون کې اغیزمنې ونډې اخیستلی شي او د روزونکو او د بدلون استازو په توګه د هغوی اضافي ارزښت ته باید ډېر اهمیت ورکړل شي. د ځوانانو مشغولیت به د نسلونو تر منځ نږدیوالی راولي، چې په ټولنیزه کچه د بیلابیلو عمرونو لرونکو افرادو تر منځ ټولنیز اتحاد ته وده ورکړي او په پایله کې د کوېډ -۱۹ پر وړاندې یو اغېزمن غبرګون ته لاره هواره وي.

## سپارښتنې:

۱. داډ ترلاسه کړئ چې په ملي کچه د وبا لپاره د چمتووالي او غبرګون پلانونه د ماشومانو حقونو او د جنسیت تحلیل پر اساس دي او د نجونو، پېغلو او ځوانو ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي خطرونو ته رسیدګي کوي. باوري کړئ چې د جنسیت له پلوه ځواب ویونکي او د عمر له مخې مناسب اقدامات د کوېډ – ۱۹ اړوند ټولو پلانونو، پالیسیو، خدمتونو او پروګرامونو کې مدغم شوي او مالي ملاتړ یې شوی دی.

۲. د اغیزمنو پلانونو، پروګرامونو او خدمتونو لپاره د معلوماتو راټولولو او تصمیم نیولو کې د نجونو، ځوانانو په ځانګړې ډول ځوانو ښځو، پېغلو او نجونو او په ملي او ځایي کچه له اغیزمن مشارکت څخه ډاډ ورکړئ.

۳. باوري کړئ چې د کوېډ – ۱۹ په اړه معلوماتو او د تاوتریخوالي، جنسي او بارورۍ روغتیا په اړه د شته خدمتونو په تړاو د عامې روغتیا پیغامونه او د اړیکو په اقداماتو کې ځوانې ښځې، پېغلې او نجونې په ځانګړې ډول هغه چې په ناوړه چاپېریالونو، لیرې پرتو سیمو کې ژوند کوي د مناسبو چینلونو او ماشومانو لپاره د مناسبو موادو له لارې، په نښه کوي.

۴. ښځو او انجونو ته د اړینو روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو ته ادامه ورکولو په موخه چې د عمر سره متناسب جنسي او بارورۍ روغتیایي خدمتونه، د تاوتریخوالي قربانیانو ته خدمتونه په ګډون چې د انجونو او پېغلو ځانګړې اړتیاوې هم په پام کې ونیسي، اړین خدمتونو ته لومړیتوب ورکړې او هغه وړاندې کړئ.

۵. د کوېډ-۱۹ د خپریدو په مخنیوي او کنټرول کې له ښوونځیو سره مرستې کولو، د تاوتریخوالي څخه د ښونځیو خوندي کولو، بلاعوضه مرستو او تحصیلي بورسونو په ګډون، د نجونو، پېغلو او ځوانو ښځو ملاتړ وکړئ څو بېرته ښوونځیو ته ستنې شیبه نصابونو کې د جنسیت برابرۍ موضوعاتو له شاملولو څخه دفاع او ملاتړ وکړئ.

۶. نجونو او ښځو لپاره د جلا تشنابونو په ګډون، د ښځینه روغتیایي کارکوونکو د روزنې او په ټولو روغتیایي مرکزونو (روغتونونو، کلینیکونو، د قرنطین مرکزونو) کې د جنسیت له پلوه د ځواب ویونکیو اقداماتو له لارې، روغتیایي خدمتونو ته وده ورکړئ.

۷. د ټولنیزو تګلارو، پروګرامونو او روغتیایي کارکوونکو له لارې، په ښوونځي کې او له ښوونځي څخه بهر ټولو نجونو او پېغلو (له ۱۰ تر ۱۹ کلنو) ته د اوسپنې او فولېک اسیدو اوونیزو خوړو ته لومړیتوب ورکړئ او و

یې غځوئ.

۸. د عرضې په ځنځیر کې اړینو توکو، لکه د حمل د مخنیوي ټابلیټ او د میاشتیي عادت روغتیایي توکو ته لومړیتوب ورکړئ، چې د نجونو، پېغلو او ځوانو ښځو روغتیا او خپلواکۍ لپاره خورا اړین دي.

۹. د میاشتني عادت روغتیا او حفظ الصحې لپاره ستراتیژیک مالي ملاتړ ته لومړیتوب ورکړئ او د هغو موسسو ملاتړ وکړئ چې د میاشتني عادت د روغتیا او حفظ الصحې په برخه کې کار کوي ځو د هغوي د کار اغېزه، په ځانګړي ډول د کوېډ - ۱۹ پر مهال زیاته شي.

۱۰. د راپور ورکولو خوندي مېکانېزمونه رامنځته کړئ او هغو ته وده ورکړئ ځو هغو نجونو او ښځو ته د مرستو ترلاسه کولو فرصت ورکړل شي چې د قرنطین له امله په خپلو کورونو کې له تاوتریخوالي سره مخ دي.